هفته واره رساله

تقریباً 36 کاله پخوانے بیان

# د بې نمانځه سزاګانې

(پښتو)

- د بې نمانځه په دنیا کښې 5 سزاګانې
- دوزخ ټک تور دے
- د الله پاک د رحمت نه مه مایوسه کېږئ
- د اودس کولو په وخت مُسکے شو

شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بلال
محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوِي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# د بے لـمانځه سزاګانې

دُعائے عطّار: یا ربِّ کریمه! څوک چې دا رساله "د بے لـمانځه سزاګانې" ولولي یا واوري هغهٔ پوخ نـمونځ ګزاره جوړ کړې او هغهٔ سره د مور او پلاره بے حسابه اوبخښې۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: بے شکه دُعا د زمکې او د اسمان ترمینځه ودریدلې وي او د هغې نه هیڅ څیز بره طرف ته نهٔ ځي تر څو چې تاسو پهٔ نبيِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرودِ پاک اونه لولئ۔

(ترمذی، 2/28، حدیث:486)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## ما داسې ولې وکړل؟

حضرت ابو عثمان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي چې زهٔ د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره د یوې وَنې لاندې ولاړ ووم چې حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغې وَنې یوه وچه ښانګه ونیوله او هغهٔ یې وخوزوله تر دې پورې چې د هغې نه پاڼې ورژیدلې بیا یې وفرمائیل: ابو عثمانه! آیا تهٔ زما نه پوښتنه نهٔ کوې چې ما داسې ولې وکړل؟ ما پوښتنه وکړه چې تاسو داسې ولې وکړل؟ اوئې فرمائیل: یو ځل زهٔ د رحمتِ عالم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

سره د يوې وَنې لاندې ولاړ ووم نو د مدينے سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هُم داسې وکړل او د ھُغې وَنې وچه څانګه يــې ونيوله او وه يــې خوزوله تر دې پورې چې د هغې نه پاڼې ورژيدلې بيا يــې وفرمائيل: اے سلمانه! آيا تهٔ زما نه پوښتنه نهٔ کوې چې ما دا عمل ولې وکړو؟ ما عرض وکړو: تاسو داسې ولې وکړل؟ ارشاد يــې وفرمائيلو: بے شکه کله چې مسلمان پهٔ صحيح طريقه اودس کوي او پينځه وخته نــمونځونه ادا کوي نو د هغهٔ ګناهونه داسې رژيږي لکه څنګه چې دا پاڼې رارژيږي- بيا نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا آيت مبارک ولوستلو:

وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَیِ النَّهَارِ وَ زُلَفًا مِّنَ الَّیْلِ ؕ اِنَّ الْحَسَنٰتِ یُذْهِبْنَ السَّیِّاٰتِ ؕ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِیْنَ ﴿۱۱۴﴾

(پ12، ہود:114)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او نــمونځ قائم کړهٔ د ورځې پهٔ دواړو غاړو او د شپې پهٔ څهٔ حِصّه کښې. بے شکه نيکئ بدو لره ختموي. دا د نصيحت منونکو د پاره نصيحت دے-

(مسند امام احمد، 178/9، حديث: 23768)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! نــمونځ يو عظيم عبادت دے، څوک يــې چې پهٔ پابندئ سره ادا کوي نو هغهٔ به د جنَّت حقدار جوړيږي او څوک يــې چې نهٔ کوي نو هغهٔ به د وور د عذاب حقدار جوړيږي- پهٔ هر عاقِل او بالِغ نارينه او زنانه باندې روزانه پينځه وخته نــمونځ فرض دے- د دې د فرضيت (يعنې فرض کيدو) نه اِنکار کُفر دے او څوک چې قصداً عمداً يو نــمونځ پريږدي هغهٔ فاسِق، سخت ګنهګار او د وور د عذاب حقدار دے- نــمونځ يوه تاکيدي فريضه ده ولې چې اللّٰه پاک پهٔ قرآنِ پاک کښې د نــمونځ قائمولو تاکيد فرمائيلے دے- پهٔ قرآنِ پاک او حديثو مبارکو کښې د بے لـمانځه د پاره ډيرې سختې سزاګانې بيان کړے شوې دي پهٔ کومو کښې چې يو څو سزاګانې ولولئ او عبرت حاصل کړئ:

## د بے لـمانځو د پاره د دوزخ خطرناکه دَره

پۀ 16 سيپاره، سورۀ مريم آيت نمبر 59 کښې الله پاک ارشاد فرمائي:

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَ اتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾ (پارہ:16، سورۀ مریم:59)

ترجمۂ كنزُ العِرفان: نو د هغوئي نه پس هٰغه نالائقه خلق د هغوئي پۀ ځائے راغلل کومو چې نمونځونه ضائع کړل او د خپلو خواهشاتو تابعداري يـې وکړه نو نزدې ده چې هغوئي به د دوزخ خوفناکې کندې غی سره مخ کيږي-

## وحشت ناک کوهے

پۀ دې آيت مبارک کښې د "غَیّ" ذِکر دے، حضرت علّامه مولانا مفتي محمد امجد علي اَعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: "غَیّ" پۀ دوزخ کښې يوه دَره ده د کومې ګرمي او ژور والے چې د ټولو نه زيات دے، پۀ دې کښې يو کوهے دے د کوم نوم چې "هَب هَب" دے، چې کله د دوزخ وور مړ کيدو ته نزدې کيږي نو الله پاک دغه کوهے برسيره کړي نو ددې سره هغه بيا (د مخکښې پۀ شان) لَمبه شي، الله پاک فرمائي:

﴿كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنٰهُمۡ سَعِيۡرًا ﴿۹۷﴾﴾ (پ 15، بنی اسرائیل:97) " چې کله به پۀ مړ کيدو شي نو مونږه به يـې د هغوئي د پاره نور راتودوو-" دا کوهے د بے لـمانځو او زنا کارو او شرابيانو او سود خورو او مور پلار ته د ضرر رسوونکو د پاره دے-

(بهارِ شريعت، 434/1، حصه: 3 بتغير قليل)

## د دُنيا کوهے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د الله پاک د ويري نه ورلزيږئ! او په ويره ويره د زړ تر زره د خپلو ګناهونو نه توبه کړئ! پۀ بيان کړے شوي روايت کښې د بے

لـمانځانو، شرابيانو، زنا کارانو، سود خورو او مور پلار ته د تڪليف ورکوونڪو د پاره د عبرت سبق دے، پهٔ دې خطرناک کوهي باندې د ځان پوهه کولو د پاره د دُنيا د يو کوهي پهٔ غاړه باندې ودريږئ او د هغې پهٔ ژور والي باندې لږ نظر واچوئ او سوچ وکړئ چې که د دُنيا پهٔ دې کوهي کښې هُم قيد کړے شو نو آيا دا سزا به برداشت کړے شو؟ که نهٔ او يقيناً چې نهٔ نو بيا به د دوزخ د خطرناک کوهي عذاب څنګه برداشت کړے شو! (فيضانِ نماز، ص422)

## بغير د غوښې مخونه

پهٔ " قُرَّةُ الـعيون" کښې پهٔ نقل کړے شوي يو حديثِ پاک کښې دا مضمون دے چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت 10 کسان داسې دي پهٔ کومو باندې چې به الله پاک د قيامت پهٔ ورځ باندې غضبناک کيږي، د هغوئي مخونه به بغير د غوښې نه د هډوکو ډانچه وي او د هغوئي به د دوزخ طرف ته د بوتللو حڪم کوي، هغه لَس کسان دا دي: ﴿1﴾ بوډا زنا کار ﴿2﴾ ګمراه مشر ﴿3﴾ د شرابو عادت لرونڪے ﴿4﴾ د مور پلار نافرمانه ﴿5﴾ چغل خور ﴿6﴾ د دروغو ګواهۍ ورکولو والا ﴿7﴾ زکوٰة نهٔ ورکوونڪے ﴿8﴾ سود خور ﴿9﴾ ظالم او ﴿10﴾ بے لـمانځه- خو د بے لـمانځه د پاره به غبرګ (يعنې دوه چنده) عذاب وي او بے لـمانځه به د قيامت پهٔ ورځ پهٔ داسې حال کښې راپاځي چې د هغهٔ دواړه لاسونه به پهٔ غاړه پورې تړلے شوي وي او فرښتے به هغهٔ وهي، جنَّت به هغهٔ ته وائي: " نهٔ تهٔ زما نه يـې او نهٔ زهٔ ستا نهٔ يم-" او دوزخ به ورته وائي: زهٔ ستا نهٔ يم او تهٔ زما نه يـې، پهٔ الله پاک باندې مې دې قَسم وي! يقيناً چې زهٔ به تا له ډير سخت عذاب درکووم- هغه وخت به د هغه (بے لـمانځه) د پاره د دوزخ دروازه پرانستے شي او هغهٔ به د تيز رفتاره غَشي په شان د هغې پهٔ دروازه

باندې داخل شي، او د هغهٔ سَر به پهٔ ځَټَک باندې وهلے شي او د دوزخ پهٔ هٰغه طبقه کښې به وي پهٔ کومه کښې چې به فرعون، هامان او قارون وي-

(قرة العيون، ص384 ملخصاً۔ نیکیوں کی جزائیں اور گناہوں کی سزائیں، ص18، 19 ملخصاً)

## د بے لـمانځه د پاره به نهٔ نُور وي او نهٔ دليل او نهٔ نجات

زما خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: کوم ګس چې د نـمونځ حفاظت وکړي، د هغهٔ د پاره به نـمونځ د قيامت پهٔ ورځ باندې نُور او دليل او نجات وي او څوک چې د دې حفاظت ونکړي د هغهٔ د پاره به د قيامت پهٔ ورځ نهٔ نُور وي او نهٔ به دليل وي او نهٔ به نجات وي- او هٰغه ګس به د قيامت پهٔ ورځ د قارون، فرعون، هامان او اُبَي بِن خَلَف سره وي- (مسند امام احمد، 574/2، حديث:6587)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: (د حديثِ پاک دا الفاظ: چا چې د نـمونځ حفاظت وکړو) داسې چې نـمونځ هميشه کوي، صحيح يـې کوي، د زړهٔ لګولو او د اِخلاص سره يـې ادا کوي، دا معنیٰ ده د نـمونځ قائمولو د کوم حکم چې قرآنِ کريم ډير ځل ورکړے دے: ﴿اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ﴾ (پ1، البقرة:43) (يعنې نـمونځ قائم کړئ) او د حديثِ پاک د دې حصې (نـمونځ به د قيامت پهٔ ورځ نُور او دليل او نجات وي) پهٔ باره کښې فرمائي: پهٔ قيامت کښې قبر هم داخل دے ځکه چې مرګ هم قيامت دے- د دې مطلب دا دے چې نـمونځ به پهٔ قبر کښې او پهٔ پلِ صِراط باندې رڼا وي چې د سجدې ځائے به د تيزې بيټرۍ پهٔ شان ځليږي او نـمونځ به د هغهٔ د مؤمِن بلکې د عارِف بِاللّٰه (يعنې د اللّٰه پاک د پيژندګلو لرونکي) کيدلو دليل وي او د دې نـمونځ پهٔ ذريعه به هغهٔ ته پهٔ هر ځائے کښې نجات حاصليږي (يعنې خلاصے به ميلاؤيږي) ځکه چې پهٔ قيامت کښې به وړومبۍ پوښتنه د نـمونځ کيږي، که پهٔ دې کښې بنده کامياب شو نو اِنْ شَآءَ اللّٰه مخکښې به هم کامياب وي- (مرأة المناجيح، 367/1، 368)

# د بے لـمانځه 15 سزاګانې

د الله پاک د اخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د نـمونځ پابندي کوي، الله پاک به د 5 خبرو سره د هغهٔ اِکرام (یعنې عزت) فرمائي: ﴿1﴾ د هغهٔ نه به غریبي او ﴿2﴾ د قبر عذاب لرې کړي ﴿3﴾ الله پاک به هغهٔ له اعمال نامه پهٔ ښي لاس کښې ورکړي ﴿4﴾ هغهٔ به پهٔ پلِ صِراط باندې د بجلۍ پهٔ شان پهٔ تیزۍ سره تیریږي او ﴿5﴾ جنَّت ته به بغیر د حساب نه داخلیږي او څوک چې د سستۍ پهٔ وجه نـمونځ پریږدي نو الله پاک به هغهٔ ته" 15 سزاګانې" ورکوي: 6 پهٔ دنیا کښې، 3 د مرګ پهٔ وخت، 3 پهٔ قبر کښې او 3 د قبر نه د وتلو پهٔ وخت۔

## پهٔ دُنیا کښې میلاؤیدونکې 5 سزاګانې

(1): د هغهٔ د عمر نه به برکت ختم کړے شي (2): د هغهٔ د مخ نه به د نیکانو بنده ګانو نخښې ورانې کړے شي (3): الله پاک به هغهٔ له پهٔ هیڅ عمل باندې ثواب نهٔ ورکوي (4): د هغهٔ هیڅ یوه دُعا به اسمان ته نهٔ رسي (5): د نیکانو بنده ګانو پهٔ دعاګانو کښې به د هغهٔ هیڅ حصه نهٔ وي۔

## د مرګ پهٔ وخت ورکړے کیدونکې 3 سزاګانې

(1): هغهٔ به پهٔ ذلالت سره مړ کیږي (2): وږے به مړ کیږي او (3): تږے به مړ کیږي که پهٔ هغهٔ باندې د ټولې دُنیا د سمندرونو اوبه اوڅښلے شي نو بیا به هم د هغهٔ تنده نهٔ ماتیږي۔

## پهٔ قبر کښې ورکړے کیدونکې 3 سزاګانې

(1): د هغهٔ قبر به دومره راتنګ کړے شي چې د هغهٔ پوښتۍ به پهٔ یو بَلې کښې ننوځي (2): د هغهٔ پهٔ قبر کښې به وور لمبه کړے شي بیا به هغهٔ شپه ورځ پهٔ سګروَټو باندې اَړولے راړولے شي او (3): پهٔ قبر کښې به پهٔ هغهٔ باندې یوه اَژدها (یعنې ډیر

غټ مار) مسلط کړے شي د کوم نوم چې اَلشُّجَاعُ الْاَقْرَع (ګنجے مار) دے، د هغه سترګې به د وور وي، نوکان به يـې د اوسپنې وي، د هر نوک اوږد والے به يـې د يوې ورځې د مزل (يعنې فاصلې) پورې وي، هغۀ به د مَړي سره خبرې کوي او وائي به: زۀ اَلشُّجَاعُ الْاَقْرَع (يعنې ګنجے مار) يم- د هغه اواز به د تندر د تيز اواز پۀ شان وي، هغه به وائي: زما رَبّ ما ته حکم کړے دے چې د سحر د نـمونځ پۀ ضائع کولو باندې د نمر راختو پورې [تا] چيچم او د ماسپښين د نـمونځ پۀ ضائع کولو باندې [تا] د مازديګره پورې چيچم او د مازديګر د نـمونځ پۀ ضائع کولو باندې تا د ماښامه پورې چيچم او د ماښام پۀ نـمونځ ضائع کولو باندې تا د ماسخوتنه پورې چيچم او د ماسخوتن د نـمونځ پۀ ضائع کولو باندې تا تر سحره پورې چيچم - کله چې هم هغه دې مَړي له ټَک ورکړي نو هغۀ به تر 70 لاسه پورې پۀ زمکه کښې ورننه شي او هغۀ به تر قيامته پورې پۀ دې عذاب کښې وي-

## د قيامت پۀ ورځ ميلاؤيدونکي 3 سزاګاني

(1): هغه پۀ حساب کښې سختي (2): د رَبِّ قهار ناراضګي او (3): دوزخ ته تلل دي- [1]
(کتاب الکبائر للامام الحافظ الذہبی ص24)

وضاحت: پۀ بيان کړے شوي حديثِ پاک کښې د 15 سزاګانو ذِکر دے خو تفصيل د 14 سزاګانو بيان شوے دے کيدے شي چې د راوي پينځلسمه سزا هيره شوې وي- البته فَقِيه ابو اللَّيث سَمَرقَندي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پۀ نقل کړے شوي روايت کښې د پوره 15 سزاګانو ذِکر دے پۀ کومو کښې چې دا شامل کړے شي نو 15 به پوره شي- ” پۀ دُنيا کښې به مخلوق د دۀ نه نفرت کوي-“ (قرة العيون مع الروض الفائق، ص383)

---

[1] …ځنې شمير مُحَدِّثينو د دې روايت پۀ سَندونو باندې جرح فرمائيلې ده خو ډيرو علمائے کرامو د وعظ او نصيحت پۀ کتابونو کښې دا شامل کړے دے- ځکه د بې نـمانځو نـمونځ ته د رانزدې کولو د پاره دا روايت شامل کړے شوے دے-

پهٔ نـمونځونو کښې سستي کوونکي دې سوچ وکړي چې آیا د هغوئي دا منظوره ده چې د هغوئي د عمر نه برکت لاړ شي! آیا د هغوئي دا منظوره ده چې د هغوئي دعاګانې نهٔ قبلیږي! آیا د هغوئي دا منظوره ده چې د نیکانو خلقو دعاګانې د هغوئي پهٔ حق کښې نهٔ قبلیږي! آیا د هغوئي دا منظوره ده چې پهٔ نـمونځونو کښې د سستۍ پهٔ وجه هغوئي د ذلت پهٔ مرګ مړه شي! آیا د هغوئي دا منظوره ده چې د مرګ پهٔ وخت هغوئي داسې تږي شي چې د سمندرونو د اوبو څښلو باوجود د هغوئي تنده ماته نشي! آیا د هغوئي دا منظوره ده چې قبر یې داسې دباؤ کړي چې د هغوئي پوښتۍ ماتې شي او پهٔ یوې بله کښې ننوځي! آیا د هغوئي دا منظوره ده چې د هغوئي پهٔ قبر کښې وور بَل کړے شي او پهٔ وور کښې اړولے راړولے شي! آیا د هغوئي دا منظوره ده چې پهٔ قبر کښې ډیره غټه اژدها پهٔ هغوئي باندې مسلط کړے شي کومه چې هغوئي هر وخت وهي او چې یو ځل یې ووهي نو 70 ګزه به پهٔ زمکه کښې دننه لاړ شي او بیا به هغه خپل نوکان پهٔ زمکه کښې داخل کړي او پهٔ خپله پنجه باندې به هغهٔ راوباسي او بیا به یې ووهي! آیا د هغوئي دا منظوره ده چې سبا د قیامت پهٔ ورځ د وور وریځه د هغوئي مخې ته راشي! آیا د هغوئي دا منظوره ده چې الله پاک د غضب پهٔ نظر هغوئي ته وګوري د کوم پهٔ سبب چې د هغوئي د مخونو څرمن او غوښه ورژیږي! آیا د هغوئي دا منظوره ده چې د قیامت پهٔ ورځ باندې الله پاک د هغوئي نه سخت ناراضه شي او پهٔ سختۍ سره ترینه حساب واخلي او بیا ورته د دوزخ حکم واوروي! یقیناً چې دا به د هغوئي منظوره نشي نو بیا اے بې لمانځو! د قرآن پهٔ حکم ﴿اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ﴾ (پ1، البقرة:43) **ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** ''نـمونځ قائم کړئ۔'' باندې عمل وکړئ او نـمونځونه قائموونکي جوړ شئ۔ وګورئ چې د نـمونځ حکم الله پاک هم کړے دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم کړے دے او د الله پاک اولیاؤ هم کړے دے د کومو مزارونو

مبارکو ته چې مونږه د زيارت د پاره ځو- وګورئ که اوس مو نـمونځونه اونه کړل نو د مرګ نه پس به پښيمانه يو، هر يو ګس به ارمان کوي چې اے کاش! ما ته د دوه رکعتو نـمونځ کولو اجازت ميلاؤ شي او زۀ پۀ خپل قبر کښې دوه رکعته نـمونځ وکړم خو بيا به موقع پۀ لاس نۀ راځي نو هم اوس خپل دا ذهن جوړ کړئ چې اے الله پاکه! تا مونږ ته د نـمونځ کولو حکم کړے دے نو مونږه د نن نه د نـمونځونو د پابندۍ نيت کوو، يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو مونږ ته د نـمونځ کولو حکم کړے دے نو مونږه نن دا وېاکله چې اوس به مونږه نـمونځونه کوو، اے د الله پاک اولياؤ! تاسو مونږ ته د نـمونځ کولو تاکيد کړے دے نو مونږه د نن نه پوخ لوظ کړے دے چې د نن نه پس به زمونږ نه يو نـمونځ هم نۀ قضا کيږي-

## سکون د الله پاک پۀ ذِکر کښې دے!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د هر يو انسان دا خواهش وي چې د هغۀ ډير دولت نصيب شي خو قِسمت وي چې هغۀ غريب شي، د هر انسان دا خواهش وي چې هغۀ چرې هم نۀ بيماريږي خو د قِسمت خبره ده چې هغۀ بيمار شي، د هر يو انسان دا ارمان وي چې پۀ هغۀ باندې چرې هم څۀ مصيبت نازل نۀ شي خو هره ورځ هغۀ د مشکلاتو سره مخ کيږي او هغۀ پۀ مصيبتونو او غمونو کښې راګيريږي، هر يو ګس دا غواړي چې زما سکون نصيب شي خو د هغۀ سکون نۀ نصيب کيږي، هر يو ګس دا غواړي چې هغۀ چرې هم نۀ مړ کيږي خو بهر حال مرګ هغۀ له راشي، هغۀ دا غواړي چې زما ځواني پۀ ځائے وي خو بوډا شي، هغۀ دا غواړي چې زما لاس ته حکومت راشي خو محکوم جوړ شي داسې انسان پۀ زوره دا غواړي چې خپله خوښه وکړي خو نۀ کيږي ځکه چې د هغۀ واګې د بل چا پۀ دستِ قدرت [يعني قبضه] کښې دي او

چې کله هغهٔ وغواړي د هغهٔ واکې راکاږي، بنده خپل ځاني ډيره سرکشي کوي خو بيا هم اخر د هغهٔ د ظلم دور ختم شي- قدرت چې کله انتقام اخلي نو د بنده هيڅ نهٔ چليږي او هغهٔ بے وَسه شي- وګورئ چې فرعون ډير سرکشه او طاقتور بادشاه وو، هغهٔ ډير زور ولګولو چې پهٔ څهٔ نا څهٔ طريقه پهٔ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې غلبه بيامومي خو اوئې نهٔ موندله- فرعون ډير کلونه ژوندے وو او ټول عمر صحت مند هم وو خو واګې د بَل چا پهٔ دستِ قدرت کښې وې، چې کله هغهٔ واګې راښکلې نو دومره لوئي حاکم او دومره طاقتور بادشاه پهٔ دريائے نيل کښې غرق شو- نمرود ته وګورئ چې الله پاک ورته ډير نعمتونه عطا کړي وو خو هغهٔ پهٔ نعمتونو ميلاؤيدو د شُکر ادا کولو پهٔ ځائے سرکشه شو او خپل رَبّ يــې هير کړو تر دې پورې چې د خدايي دعویٰ يــې وکړه، پهٔ حضرت ابراهيم خَلِيلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام باندې د غالب راتللو د پاره هغهٔ څهٔ څهٔ اونه کړل خو د دومره لوئي بادشاه کيدلو باوجود د يو ګوډ ماشي پهٔ ذريعه هلاک شو- مفسرين فرمائي: کوم ماشي چې نمرود هلاک کړو هغه ګوډ وو او هغه د پوزې پهٔ ذريعه باندې دماغو ته ورسيدلو او د نمرود کار يــې تمام کړو او دغه شان نمرود پهٔ ذلالت کښې مړ شو- (تفسيرنعيمى، 61/3، 62 ملخصاً) معلومه شوه چې پهٔ دې دنيا کښې د چا مرضي نهٔ چليږي او واګې د بل چا پهٔ دستِ قدرت کښې دي، هغهٔ چې کله وغواړي نو واګې راکاږي نو بيا ولې د هغهٔ طرف ته رجوع نهٔ کوو د چا پهٔ دستِ قدرت کښې چې واګې دي- چې هر څهٔ د هغهٔ سره دي، هر څهٔ هم هغهٔ کوي، هم هغهٔ هر څهٔ کوونکے دے،دا ټول هم هغهٔ پيدا کړل، هم هغهٔ به يــې ژوندي ساتي او هم هغهٔ به يــې مړه کوي نو بنده د هغهٔ طرف ته رجوع ولې نهٔ کوي؟ نن سبا سکون لټوونکے غواړي چې زما سکون نصيب شي او د دې مقصد د پاره هغهٔ انټرنيټ کولا و کړي، سندرې سازونه اوري، تاش کوي، شطرنج کوي، فلمونه ډرامې ګوري، شراب څښي او پته نهٔ لګي چې څهٔ څهٔ کوي خو

د هغهٔ سکون نهٔ نصیب کیږي ځکه چې سکون پهٔ دغه څیزونو کښې نشته او نهٔ سکون زما او ستاسو پهٔ اختیار کښې دے۔

یاد ساتئ چې سکون چې د چا پهٔ دستِ قدرت (قبضه) کښې دے هغهٔ د سکون ذریعه هم څهٔ بله شودلې ده۔ ډیرو خلقو د سکون حاصلولو د پاره تې وي لګول، سندرې سازونه اوریدل او فلمونه ډرامې کتل شروع کړي دي چې کیدے شي سکون نصیب شي خو د هغوئي سکون نصیب نهٔ شو ځکه چې سکون پهٔ دې څیزونو کښې نهٔ بلکې د الله پاک پهٔ ذِکر کښې دے نو پهٔ 13 سیپاره، سورۂ رَعد، آیت نمبر 28 کښې الله پاک ارشاد فرمائي: ﴿اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَىٕنُّ الْقُلُوْبُ﴾ ترجمهٔ کنزُ العِرفان: " واورئ! هُم د الله پهٔ یادولو زړونه سکُون حاصلوي۔" بے شکه د ذِکر پهٔ محفل کښې الله، الله کول هم ذِکر دے او پهٔ دې سره هم سکون میلاؤیږي خو صِرف دا ذِکر نهٔ دے بلکې د ذِکر نور قِسمونه هم دي: مثلاً " نـمونځ، د قرآنِ پاک تلاوت، نعت شریف، تسبیح، د نیکانو خلقو حالات بیانول وغیره۔" (تفسیر صراط الجنان، پ 1، البقرة، تحت الآية:114، 193/1 ملخصاً) که څوک سکون غواړي نو هغهٔ له پکار دي چې د الله پاک بارګاه ته رجوع وکړي او د نـمونځونو پابندي وکړي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د هغهٔ به سکون نصیب شي۔ یاد ساتئ که تاسو د الله پاک بارګاه پریږدئ او اخوا دیخوا تنبتئ نو خبره به خرابه شي او که د هغهٔ پهٔ دروازه باندې پراتهٔ یئ نو هغهٔ به تاسو ته عطا کړي ځکه چې هغهٔ ډیر رحیم او کریم دے۔ څوک چې د الله پاک شي نو کائنات د هغهٔ تابع کړے شي او څوک چې د الله پاک پهٔ احکامو باندې عمل نهٔ کوي او د هغهٔ د خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لمن پریږدي نو الله پاک د هغهٔ نه خفه شي او چې کله هغهٔ خفه شي نو واکې راکاړي او چې کله واکې راکاړي نو د دُنیا یو طاقت یې هم نشي بچ کولے۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په دې خبره کښې هیڅ شک نشته چې ایمان راوړل ډیره د سعادت خبره ده خو نیک اعمال کول هم ضروري دي- که مونږه نیک اعمال نهٔ وي کړي او الله پاک په خپل کرم باندې مونږه اوبخښلو نو دا به زمونږ د طرف نه بے وفائي وي چې مونږه د الله پاک د رضا د پاره هیڅ اونه کړل حالانکې " د ټولې زمانې دا قاعده ده چې د چا خورې نو د هغهٔ صفتونه کوي" وګورئ چې مونږه د الله پاک نعمتونه خورو او د هغهٔ په کرم باندې خپل ژوند تیروو خو مونږه په نـمونځ نهٔ کولو د هغهٔ نافرماني کوو خو که هغهٔ ناراضه شو او هغهٔ زمونږه رَسی راښکله نو بیا به زمونږه حشر ډیر خراب وي، یاد ساتئ چې دا خبره خو ټاکلےشوې ده چې څهٔ نا څهٔ مسلمانان خو به ضرور داسې وي کوم چې به **مَعَاذَ الله!** دوزخ ته داخلولے شي، مونږه د دوزخ نوم اورو خو په مونږ کښې به ډیرو ته دا معلومه نهٔ وي چې دوزخ څهٔ دے؟ راځئ چې د دوزخ څهٔ ذِکر ولولو:

## د دوزخ د سختۍ او د ګرمۍ حالت

د حضور اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار مبارک کښې حضرت جبرئیلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام حاضر شو او عرض یـې وکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! په هٰغه ذات باندې مې دې قَسم وي کوم چې تاسو صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نبي برحق راليږلي يئ، که دوزخ د ستَنې د سورې برابر کولاو کړے شي نو د ټولې زمکې والا به د دهٔ د ګرمۍ نه هلاک شي- (معجم اوسط، 78/2، حدیث:2583 ملخصاً) په کروړونو اربونو میله دوزخ زمونږ نهٔ لرې دے د دې باوجود د دې تاؤ دومره دے چې که د ستنې د سورې همره هُم کولاو کړے شي نو ټول مخلوق به هلاک شي، څوک چې پخپله دې دوزخ ته ځي نو د هغهٔ به څهٔ حال وي؟ حالانکې د يو قول مطابق " دوزخ د اوومې [7] زمکې د لاندې دے-"

(شرح عقائد نسفيه، ص249)

## دوزخ تَک تور دے

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې حضورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: د دوزخ وور زر [1000] کاله بَل کړے شو تر دې پورې چې هغه سور شو، بيا زر [1000] کاله بَل کړے شو تر ې پورې چې هغه سپين شو، زر [1000] کاله نور بَل کړے شو تر دې پورې چې هغه اوس تَک تور دے- (ترمذی، 266/4، حدیث:2600)

تيارۀ يخچله يو عذاب دے، چې بجلي لاړه شي نو د تيارې په وجه خلق نا قلاره او پريشانه کيږي نو داسې تيارۀ يخچله ويرولو والا ده او بيا به د دې سره سره دومره خطرناک تور وور هم وي! خرابي ده د هغه بد قِسمته انسان د پاره کوم چې به دوزخ ته ځي-

## د اللّٰه پاک د رحمت نۀ مۀ نا اميده کيږئ

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د اللّٰه پاک د رحمت نه مۀ نااميده کيږئ، بس د اللّٰه پاک فرائض مثلاً نمونځ، روژه، حج او زکوٰة وغيره په ښه طريقه باندې ادا کوئ، د هغۀ د منع کړے شوو څيزونو نه ډډه کوئ او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لمن کلکه اونيسئ، اللّٰه پاک به ستاسو نه راضي شي او په دواړو جهانو کښې به ستاسو بيړئ پار شي- ګورئ چې مونږه د خپلو بچو سره محبت کوو او د محبت په وجه د هغوئي هر فرمائش پوره کوو مثلاً که زمونږه بچے ووائي چې ابو! ما له موټر سائيکل واخله نو مونږه هغۀ ته وايو چې زما زويه! يو نۀ دوه به درله واخلم او بيا د يو په ځائے د دوو چابيانو والا موټرې د هغۀ د پاره واخلو، دغه شان که زمونږه بچے ووائي چې ابو! ما له سائيکل واخلئ نو مونږه په محبت کښې د هغۀ دا خواهش هم پوره کوو-

اوس دې مونږه خپله جائزه واخلو چې مونږه د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره محبت کوو او ځان ته عاشقانِ رسول وايو خو نمونځونه قضا کوو حالانکې سرکار

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: جُعِلَتْ قُرَّةُ عَیْنِیْ فِی الصَّلٰوةِ يعنې پۀ نـمونځ کښې زما د سترګو يخ والے کيښودے شوے دے- (نسائی، ص644، حدیث:3945) وګورئ چې د چا سره محبت وي نو د هغۀ د سترګو د يخ والي خيال ساتلے شي خو مونږه د محبت کولو باوجود د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سترګو د يخ والي خيال نۀ ساتو! د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره رښتونے محبت وو ځکه به هغوئي د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ادا ګانو د ادا کولو پوره کوشش کولو، پۀ دې باره کښې يو خو واقعې ولولئ!

## د اودس کولو پۀ وخت مُسکے شو

د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ زبردست عاشقِ رسول بلکې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عشق عملي نمونه وه، يو ځل چې کله حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اودس کولو نو مُسکے شو، خلقو چې ترينه د وجهې پوښتنه وکړه نو اوئې فرمائيل: ما يو ځل سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ دې ځائے باندې د اودس کولو نه پس پۀ مُسکا ليدلے وو-

(مسند امام احمد، 1/130، حدیث:415 ملخصاً)

وُضو کر کے خَنداں ہوئے شاہِ عثماں
کہا کیوں تَبَسُّم بَھلا کر رہا ہوں؟
جوابِ سُوالِ مُخاطَب دیا پھر
کسی کی ادا کو ادا کر رہا ہوں

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د چا اَدا ادا کووم

حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما مکې مکرمې ته د تللو پۀ وخت د يوې بيرې د وَنې پۀ ښاخونو کښې خپله عمامه شريف انښلوله او لږ مخکښې به تللو او بيا به راواپس کيدل او عمامه شريف به يـې راخلاصوله او وړاندې به تللو- خلقو ترينه

پوښتنه وکړه: دا څهٔ دي؟ ارشاد يـې وفرمائيلو: د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عمامه شريف پهٔ دې بيره کښې انبنتې وه او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره وړاندې تلے وو او راواپس شوے وو او خپله عمامه شريف يـې راخلاصه کړې وه-

(نورالايمان بزيارة آثار حبيب الرّحمٰن، ص15 ملخصاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! تاسو وکتل چې د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره څومره محبت وو چې هغوئي به تر خپله وَسه پورې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اداګانو اختيارولو کوشش کولو-

د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره حقيقي محبت وو خو نن زمونږه محبت صرف د خبرو تر حده پورې دے- اوس تاسو ولوستل چې حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهما عمامه شريف پهٔ سر کړې وه خو مونږه د عمامې شريف سُنَّت پريښودے دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي پهٔ دې وخت کښې هم د عمامې شريف سُنَّت ژوندے کړے دے، هم دا وجه ده چې نن مونږ ته پهٔ زرګونو نهٔ بلکې پهٔ لکونو سرونو باندې عمامې پهٔ نظر راځي ګنې مخکښې به ډيرو کمو خلقو عمامې پهٔ سر کولې- ياد ساتئ چې سرتور سر به هله تاسو اوسيږئ چې کله تاسو عمامه شريف پهٔ سر کول پريږدئ ځکه چې عمامه شريف پهٔ جيب کښې ساتل ګرانه ده خو ټوپۍ پهٔ جيب کښې ساتل اسانه ده- د بده قسمته د عمامې شريف سُنَّت هم ناياب شوي دي حالانکې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ خپل سر مبارک باندې عمامه شريف د ټوپۍ د پاڅه تړله او د دې ترغيب به يـې هم ورکولو، يو ځل نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عمامې شريف طرف ته اشاره وکړه او اوئې فرمائيل: د فرښتو تاجونه هُم داسې وي- (کنزالعمال، 205/8، حديث: 41902 ملخصاً) پهٔ يو ځائے کښې ارشاد فرمائي: عمامې پهٔ سر کړئ چې پهٔ دې سره به ستاسو حِلم زيات شي-

(مستدرک، 272/5، حديث: 7488)

یاد ساتئ چې مونږ ته به پۀ حقیقي معنو کښې د اولیائے کرامو رَحْمَةُاللهِعَلَيْهِم رضا هله حاصليږي چې کله مونږه د هغوئي پۀ سيرت باندې عمل وکړو، اولیائے کرامو خپل ټول ژوند د سُنَّتو عام کولو د پاره وقف کړے وو او هغه حضراتو ټول ژوند د سُنَّتو درس ورکولو خو نن مونږه عملي طور دا ثابتوو ... ټاکلي ده چې پۀ سُنَّتو اختيارولو باندې پۀ سختئ سره پابندي ده۔

## څۀخطا زمونږ نه داسې شوې ده!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن سبا خلق وائي: پته نۀ لګي چې څۀ وجه ده چې زمونږ د کورونو نه بيماري نۀ لرې کيږي، زمونږه د کورونو نه بے روزګاري نۀ لرې کيږي، زمونږه اولاد نۀ کيږي، زمونږه دا پريشاني ده او هغه پريشاني ده! او دا وائي چې " پته نۀ لګي چې زمونږ نه داسې څۀ خطا شوې ده د کومې چې مونږ ته سزا ميلاؤيږي" خو حالت يې دا وي چې د مخ نه يې ګيره صفا کړې وي او هغه يې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دښمنانو پۀ شان جوړ کړے وي او نـمونځونه هم بالکل نۀ کوي۔ که تاسو غواړئ چې ستاسو د کور نه بيمارياني، بے روزګاري، بے اولادي او پريشاني ختمې شي نو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ سُنَّت باندې عمل وکړئ او پۀ پابندئ سره نـمونځونه کوئ۔ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ستاسو به ذهني او د زړۀ سکون نصيب شي او ستاسو کور به د امن او خوشحالئ نه ډک شي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دا رساله د لوستلو نه پس د ثواب پۀ نيت چا له ورکړئ

د غم ښادئ پۀ دستورو، اجتماعاتو، عُرسونو، د ميلاد پۀ جلوسونو وغيره کښې د مکـتبة الـمدينه چاپ کړے شوې رسالې او د مَدَني ګولونو پمفلټس تقسيم کړئ او ثواب وګټئ، ګاهک ته د ثواب پۀ نيت پۀ تحفه کښې د ورکولو د پاره پۀ خپلو دکانونو کښې د رسالو کيښودو معمول جوړ کړئ، د اخبار خرڅوونکو پۀ ذريعه د خپلې محلې

کور کور ته د میاشتې کم از کم یوه د سُنَّتو نه ډکه رساله یا د مَدَني ګلونو پمفلټ وړکړئ او د نیکۍ دعوت عام کړئ او ښه ډیر ثواب وګټئ- (بهارِ شریعت، 288/1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د راروانې هفتې رساله





فیضانِ مدینه محلّه سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 | 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net